**ليکونکی** : ستيفن لند من (Stephen Landman) .

**منبع اودخپريدو نيټه** : ګلوبال ريسرچ «2020-03-02» .

**ژباړونکی** : پوهند وی دوکتور سيد حسا م «مل» .

------- [ 29 ]------------------------------------------------------

# په ا فغا نستا ن کي د سولي او ثبا ت د بيا راژوندي کيد و ويره

## The Illusion of Restoring Peace and Stability in Afghanistan



امريکي افغانستان ته د پا تی کيد و لپاره راغلي اودا خبره بلکل رينتيا دی چی امريکا په ورته بڼی سره دخپل جنګ په ټول تيا ترونوکی پرهيوادونو با ندی له يرغل څخه وروسته هغه هيوادوونه اشغال کړی اوبيا دخپل ګټو دترلاسه کولو لپا ره ګوډاګي رژيمونه د چوپړ په بڼه په واک ګما رلی دي .

دا فغا نستا ن د کړکيچ تاريخ پيړيو پيړيو ته بيرته راګرځی لکه هسی چي **جان پليګر** څرګنده کړي اوهغه داچي هيڅ داسی يو بل هيواد لکه افغانستا ن په څير تر سوی استفادی لاندی نه دی راغلی يا ورسره نا وړه چلند نه دی شوی اوهم بل هيڅ يوهيواد سره لکه د ا فغا نستا ن په څير لړه مرسته نه دی شوی.

که دځمکی په مخ دوزخ شتون ولری نودهغه دوزخ مرکزی دفتر په افغا نستا ن کی ځای په ځای شوی کوم چي په دی مد رن دوره کی د ډیر نړیوال موقیعتونو سره وا بستګی لری او هغه هم دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا دګرمو اسلحو او نوروشیا نو دپکار وړلو د نه ختمیدونکی جنګونه له امله .

ا فغا نا نود پیریو لپا ره هغه څه زغملي دي کوم چي ډ یرکم خلک دهغه تصورکولی شي. تاړاکګراویا لوټما رپوځونه ددي هیواد ښارونه تل کلا بند کړي ، په زرګونو خلک یی وژلي اودپه غه هیواد کي پراخی ویرا نی او ویجا ړنی تر سره کړي دي .

ا فغا نا ن په نولسم پیړي کي دانګلیس اود تزاری روسي د ا مپراتوری د **(لوي لوبي)** په مبارزه کي قربانی شوی چی دهغه وخت د نه ختمیدونکي جګړی ورانی، اشغال ، بد مرغي لاتراوسه په دي ملک کی دوام لري اوبیا په ځانګړي ډول د (۹/۱۱) له یرغل څخه وروسته کومه بد مرغی چی د ا فغا نا نو په برخه شوی دي د ا ند یښنی وړ دي – نوپه دي بڼه هر چیری چی د متحده ایالاتوسر اوغوړ ښکاره شوي نو دځان سره ورانی اود نه ختمیدونکی جنګ شوم زیری هم راوړي دي .

**د ګید ون پولیا** (Gideon Polya) په وینا :

دامریکي د بوړنونکي جنګ نا ورین«د سپټامبردیولسمي نیټي څخه وروسته » کوم چي (په ا فغا نستا ن کی پیل شو ) دهیواد څخه بهر د(32) ملیونو مسلمانانو ( دتا وتریخوا لي یا د محرومیت له ا مله ) دمرګ سبب شو اوپه کورکي دننه (په امریکا کي ) د (27) ملیون امریکا یا نو د مرګ د مخنیوی سره په غیر مستقیم ډول تړاودرلود چي په بهرکی دملیونونو مسلما نا نو دوژلو لپاره (7) تریلیون دالر اوړد مهاله مالی لګښت ژمنی له ما لی غلطی یا انحراف سره تړاو درلود .

په قوی احتما ل سره دغه ریښتینی ما لي لګښت د پنځا ګون له خوا دڅو تریلینو ډالرو د بی حسابه کیډ وله امله چي په کا ل(1990) کی راپیښ شوی وه دری برابره زیا ته شوی .

**پولیا** ټینګا روکړ : چي «**بوش**» ،«**اوباما**» ،او «**ترامپ**» دری واړه دامریکی جمهور ریسانو وژونکي جمهور ریسا ن دي .

دجنګ جګړی تکرارونکي جنا یت کار ( ترامپ خبرداری ورکړ ) چي په نړي کي هیڅ ځای دامریکا یی ځواک له لاسرسي څخه لیری نه دي .

دا فغا نستا ن هلوکا ست اود افغا نا نوقتل عام چي د امریکي د متحده ایالاتو لخوا په ځلورولسیزوکي پرافغا نا نوباندي تحمیل یا تپل شوی نو دغه نسل کشی به دښکیلتیا د خورا سخت قواعد و سره دوام وکړي .

په ا فغا نستا ن کی له کال (1990) څخه راهیسي **پولیا** دشپږو ملیونوخلکو د مړنی مخنیوی

اوهم وروسته د سپټا مبر د(یولسمی نیټی) د برید څخه ترحده زیا ت د ملیونونو نور ګډوالو اتېکل کړي دي.
له هغه مهال چي امریکی پر شما لی کوریا باندي په کا ل (1950) کی حمله وکړ هغه یعنی **پولیا** داسی اټکل وکړچي شما لی کوریا د(40) ملیونو خلکو د مړنی مخنیوی اوپه لس ګونو ملیونو ګډوال درلود.
متحده ایالات ددوهمی نړیوال جګړی څخه وروسته په یو اویا بل شکل پر (52) هیوادونو باندی تیری اویا یرغل کړي دي .
دامریکایا نواستثنای یا ځانګړتیااوسید ل په دي معنی دي چی متحده ایالات په نا متنا سب بڼه کوم چي بشریت موجوده ګواښونو سره مخامخ ده راښکیل دي اوبیا په ځا نګړی بڼه هسته اي جګړه چی کولي شی په ځمکه کي ټول ژوند له مینځه ویسي .
آیا په افغانستان کي دمتحده ایالاتو« **تلپا تي جنګ** » پای ته نژدی دي ؟
پر ا فغا نستا ن با ندي د لمړي برید تصوراودهغه مفهوم په دی نظرولاړ وه چي دمتحده ایالاتود ملی ا منیت په ستراتیژی کي له د **بوش/چینی** څخه بیا تر« **اوبوما** » او«**ترامپ** » ته بیا ن شوی یا دیکته شوی وه چي هرڅوک په هرځای کي وډاروی یا ورته ویره پیداکړي
د «**ترامپ** » درژیم اود طا لبا نو د سولي موافقه دهغه مقا لی ا رزښت نه لري چي لیکل شوی یا دهغه څه ارزښت نه لری چي دکاغذ پرمخ لیکل شوی دي .
امریکي د خپل موجودیت په تا ریخ کي بار بار داسی تړونونه او موافقی فسخ کړی اویا د موافقی د موادو اودمحتویاتو د تطبیق څخه سرغړونه کړي دي نو دا اوس بلکل په ډاګه شوي چي دامریکي په دی واکمنو رژیمونو با ندي باور نشی کید لي .
د سولي په اړه دامریکي د موافقی مفکوره اوپه ا فغا نستا ن کي د اشغا ل (نیواک) پای ته رسید ل بی دیو غولونه او توهم څخه بل شي نه دي !
اودغه ځکه چي د تړون دموادو په نظر کي نیولو سره امریکي متعهد شوی چي دڅو راتلونکو میا شتو په موده کي د خپل اود خپل متحد ینو دسرتیرو شمیرکموی او بیا د (14) میا شتو په موده کي په بشپړ توګه خپل ټول قوتونه له ا فغا نستا ن څخه باسی او هغه نظامي اډی چي دهغه په ساختما ن او جوړونه کي په ملیاردونه ډالر لګولی دی خوشی کوی ....؟
له افغانستان څخه دمتحده ایالاتو دځواکونوکمید ل یا دهغو شمیر را ټیټول وروسته له هغه ترسره کیږي کوم چي مخکي امریکا یي زیا ت قوتونه په دي هیواد کي دمشوری ورکونکی اودا فغا نی سرتیرو لپا ره دتروریزم پر ضد جګړه کي دهغو دمهارتو نو دظرفیت دپیاوړتیا په خاطر ځای پرځای شوی وه .
او د پنټا ګون ترهګریز برید د جګړي په اوږدو کي په معمول ډول دوام درلود.

د (2017) کا ل په نیمیا یی کي دافغانستان په د ننه کي په حدود د (8400) امریکایي ځواکونه میشته وه او وروسته له هغه **د ترامپ** واسطه سره د هغو شمیر زیا ت شو لکه هغسی چی دامریکي دفاع وزیر « **ما تیس**» وایي :
« اوس مونږ پوره ډاډه یو چي «پنتاګون» کولی شی چي زمونږ ما موریت آ سا نه کړي اوزمونږ ژمنی دحالاتو په نظرکی نیولو سره تنظیم کړي » .
په ا فغا نستا ن کي زمونږ عمومی ماموریت یوشا ن دي اوهغه یعنی ا فغا نی ځواکونو ته مشوره اوزده کړه ورکول دی ترڅو چي هغوی خپل خلک وساتي او تروریستان پر نیږدی چي په ا فغا نستا ن کي پر نور هیوادونو با ندی دحملی کولو لپا ره د لته پټنځا یونه ولري .
د « **ترامپ** » رژیم دا فغا نستا ن په تګلاره یا ا ستراتیژی کی د متحده ایالاتو د ځواکونو پر شمیر با ندي هیڅ محد ودیت نه دي وضع کړي .
د **بوش/ چینی** دمتحده ایالاتوتګلاره « **اوباما** » او « **ترامپ** » دا فغا نستا ن د خلکو په سا تنه کي یا د تروریستا نو دخوندي پټنځا یونو په ردولو سره هیڅ توپیر نه لري ، امریکا هغه تیول عنا صریا جنګی تروریستي د لی تپلي چی په هریوځای کی دخپل په جنګي تیا تر را زیږولی دی دهغو څخه ملاتړ کوي .
د «ترامپ» ادعا چي په پای کي دامریکا ترټولو اوږد جګړه پای ته رسولو اوزمونږ سرتیری بیرته خپل هیواد ته دراوړلو لپاره کوي نو ددی ادعا دترسره کیدو ریښتنی انتظار دراتلونکو اونیو او میا شو پوري ایستل کیږي اوپه افغانستان کي د(اتلس) کلونو جګړو د توهم پای ته رسید و احتما ل به له مینځه لاړشي .
دا که پنتاګون اودهغه سره ایتلافی ځواکونه دلته په افغانستان کي پاتي کیږي یا داچي وځی بیله مسله دی اما (سی آی ای) دافغانستان په دننه کي د ملیشو شخصی پوځ سا تي چي دمتحده ایالاتو ګټو ته خد مت وکړي .
دوی دلته پاتی کیږي او نه سره وځي اوبیا دهغه له جملی څخه داعش ، القاعده اوداسی په نظر راځی چي جهادیانو دلانګلی ( Langley د ویرجینیا شمال ختیځ کې یوه ټولنه ، د واشنګټن DC شمال لویدیز کې ، د مرکزي استخباراتو اداري کور دی.) اود پنتا ګون په په واک او اختیار سره ا فغا نستا ن ته به لیږل کیږي .
دا فغا نستان دستراتیژی ارزښت دمتحده ایالاتولپا ره ددی هیواد پراخه زیرمی اوجغرافیوی موقیعت دی چي د**روسیی** اود **چین** په ګاونډ یتوب کی پروت دي .
متحده ایالات غواړي چي دواړه هیوادونه د پنتاګون په محا صره کي پاتي شي اوغواړی چي په دی هیواد کی د ګاز او نفت لولی وغزوی یا اعمار کړي .
همدا رنګه متحده ایالات غواړی چي په ا فغا نستا ن کي د تریا کو کرکیلنه ،اود هغه تولید

دوام وکړي تر څو چي امریکا نړیوال بازارونو ته هیرویین توزیع او وړاندی کړی کوم چی دهغه له خرڅلاو څخه د غربی با نکونه ا ود (سی آی اي ) عایدات د یو ستر منبع په بڼه وسا تـي .

امریکا په بیلا بیلو جنګی تیاترونو کی دنه ختمیدونکي جګړي غوښتونکي دي او غواړي چي خبل امپریالیستي اجندا په خپرولو سره خپل پوځ ، صنعت ،امنیت اودرسنیو پیچلتیا تغذیه کړي .

ددی جنګ په تیاترونو کي دسولي او دثبات بیرته راوستل دامریکي ګټه زیانمنوی نو له همدی وامله ولی نوی زرېز ( هزارها) پلی کړی جنګونه یا را مینځته کړ شوی ګواښونه چی باید دوام وکړي هغه ودروی یا بند کړي .

په ا فغا نستا ن کي دسولي اوثبا ت راوستل ممکن د متحده ایالات داختراع شوی پلمی اوبهانې څخه چي دهغه څه څخه چي موافقه شوي وه مات کړي .

د متحده ایالاتو ټول جنګ جګړي د لوی دروغ اود فریب په اسا س جنګ جګړي دی اودجګړی ګوندونو یا پا رټی لپا ره د سولي اود ثبا ت د پرانستلو صفحه یا پاڼی تقریباً صفر یا هیڅ دي .

دامریکي اوږد تا ریخ په ګوته کوي چي دغه هیواد یو جګړه ما ر هیواد دی اوداځکه چي دغه هیواد دخبل تا سیس اویا دایجاد له مها له د ا مریکي د بومیا نو پروړاندي خونړی جنګونه ترسره کړي اوبیا له همغه وخته تر نن پوری څه د ا مریکی په د ننه اویا بهر کي د بشریت په وړاندي له خونړی جنګونو څخه نه دی تر شا شوي .

## دمقالی دلیکونی په اړه څو کرښی :

د جایزې ګټونکی لیکوال ستیفن لینډمین په شیکاګو کې ژوند کوي .هغه کولی شي په lendmanstephen@sbcglobal.net کې لاسرسی وموميې .هغه د نړیوال کیډو په اړه د څیړنې مرکز ریسرچ ایسوسی ایټ دی.
د مدیر او مرسته کونکي په توګه د هغه نوی کتاب "په اوکراین کې د فلش پوټینټ: د متحده آیالاتو ډرای فار هیجمنیت ریسک "WW III نومیږي.
http://www.claritypress.com/LendmanIII.html
په sjlendman.blogspot.com کې د هغه بلاګ سایټ څخه لیدنه وکړئ

--------------------------------- **په سلامونو « 2020-03-08 »**

.